# پښتونخوا

## دپښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه

## ۲۴ -۲۵ ګڼه 2003-2004 کال



# Pakhtoonkhwa

## Jahrg./vol: 17-18

## nummer/ no: 24-25

## PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA
## Pakhtunkhwa

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN
PARTEI DER PASCHTUNEN Paschtunchwa/Afghanistan

ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL
DEMOCRATIC PARTY (PSDP) Pashtunkhwa/Afghanistan

خپرونکي: د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند
پښتونخوا / افغانستان

**Herausgeber**: Sozialdemokratische Partei der Paschtunen Paschtunchwa/Afghanistan

**Publisher**: Pashtoons Social democratic Party (PSDP) Pashtoonkhwa/Afghanistan



**زمه وار**
**V.S.I.P.**
**Responsible for Contents**
ډو کتور کبیر ستوری
**Dr. Kabir Stori**
**Richard Str. 5**
**50389 Wesseling**
**Germany**
Tel.: 0049-2236/ 83463
Fax: 0049- 2236/ 841930
E-Mail: psdp@ pashtoonkhwa.com



**Redaktion:**

| **Editorial Board:** | **د خپرونی جرګه :** |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علیخان محسود |
| Hidayat Bangash | هدایت بنګش |
| Mabariz Zapi | مبارز ځاپی |
| Aziz Sarshar | عزیز سرشار |
| Abdul-Nasir Stori | عبدالنصیر ستوری |
| Gulgutai Kunarai | ګل غوټی کونړی |



E-Mail: psdp@ pashtoonkhwa.com



| سرلیکونه | لیکوال | مخ |
|---|---|---|
| ملګری ملتونه، لوئیه جرګه او اساسی قانون | | ۲ |
| ښکلا او خپلواکی | تورن پال ( بابی) | ۳ |
| د ډیورند کرښی سیمینار ته د PSDP مشر ډاکتر کبیر ستوری وینا | | ۴ |
| پښتو په اویستا او ویدا کی | پوهاند ډاکتر سرزمین کیمور | ٦ |
| پښتانه او دډیورند توافق لیک | پوهاند ډاکترمحمد حسن کاکړ | ۸ |
| دخوشحالخان خټک یاد(شعر) | عبدلوهاب سرتیر | ۱۲ |
| ټول پښتون ته زما پیغام | ډاکتر رحمت ربی زیرکیار | ۱۳ |
| ننګیالی اولس | ګل غوټی کونړی | ۱۹ |
| د ژوندون خبره (شعر) | مبارز ځاپی | ۲۰ |
| سبا (شعر) | محمداجان یار | ۲۰ |
| د پښتو تراوسه څرګندلومړنی ساقی نامه ویونکی زرغون خان نورزی | سرمحقق زلمی هیوادمل | ۲۱ |
| په دوه زرم عیسوی کال کی په ....... | | ۲۵ |
| نوی زېږي | خبریال: نصیر ستوری | ۳۱ |
| شعر | هارون الرشید خټک | ۳۹ |
| د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند مطبوعاتی اعلامیه | | ۴۱ |

کبیر ستوری کوه. سیمینار د قرانکریم دځو ایاتونو په تلاوت او د خان لالا په لنډه او معلوماتي وینا سره پرانستل شو. ور پسی ښاغلی پروفیسر ډاکټر فضل الرحیم مروت، ښاغلی افضل خاموش، میرمن شمیم قیصر خان، ښاغلی محمد ارشد خان، ښاغلی اجمل خټک صیب، ښاغلی ایم ای بهټو، ښاغلی روښان یوسفزی، ښاغلی اکمل لیوني، میرمن





په عکس کی د "ډیورند کرښی" سیمینار ځنډی لیدل کیږی

ظاهره خټک، ښاغلی ډاکټر ماخان شینواری، ښاغلی جلال محمود شاه، ښاغلی شمس الهدا شمس، ښاغلی امیر حمزه مروت، میرمن راضیه نعیمی وردګ او ښاغلی ودود اشنغری او همداشان ددوهمی ورځی سیمینار ته ښاغلی محمد افضل خان لالا، ښاغلی ډاکټر کبیر



ستوری، ښاغلی لطیف اپریدی، ښاغلی رحمت شاه سائیل، ښاغلی حاجی غلام احمد بلور، ښاغلی سکندر شیرپاو، ښاغلی سلیم سیف الله خان، ښاغلی ولی محمد خلیل، ښاغلی میا افتخار حسین، ښاغلی سلیم صافی، ښاغلی اقبال خیبروال، ښاغلی ډاکټر سید عالم محسود، ښاغلی طلا محمد خادم، ښاغلی عبیدالله منډوخیل، ښاغلی رحمان بونیری، ښاغلی بیرسټر مجیب الرحمن احساس، ښاغلی ډاکټر محمد ګل ګران، ښاغلی امان الله کاسی، ښاغلی مرتضی شاهین، ښاغلی سردار خان یوسفزی، ښاغلی امان الله بازی، ښاغلی سرور خټک او نورو په خپل وار سره خپلی مقالي ولوستلي، ویناګانی ئی وکړی شعرونه ئی وویل او د ډیورند د کرښی د تاریخی حیثیت د مینځه تلو او د پښتون قام د ملی یووالی او د پښتو ژبی او کلتور (ثقافت) په هکله ئی علمی مقالي ولوستلي او ګټوري خبری او تحلیلونه وکړل. د قامی مشر ښاغلی طاهر اچکزی، تاریخ پوه ښاغلی پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ او د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند د ښځو د ټولنی مشری میرمن ښاپیری شینواری رالیږل شوی مقالي هم حاضرینو ته ولوستل شوی د ګډون کونکو له خوا د نورو پریکړو تر څنګ د یوی دایمی جرګی د جوړیدلو پریکړه هم وشوه. د سیمینار مقالي، ویناګانی او پریکړه لیک به ډیر ژر په راټلونکی کی په کتابی شکل کی خپور شی.

**لیدنی کتنی:** د پښتون سوسیال ډیموکرات ګوند مشر ډاکټر کبیر ستوری د ۲۰۰۳ ع کال د اکتوبر د میاشتی په ۱۵ او ۱۶ مه نیټه د ښاغلی خان لالا محمد افضل خان په بلنه په پیښور کی د [ د ډیورند کرښی تر نامه لاندی] دوه ورځنی سیمینار کی ګډون کړی وو. دی د سیمینار د دواړو ورځو صدر (مشر) ؤ او پدی ترځ کی ئی د ښاغلی سلیم راز، ښاغلی قیصر خان، ښاغلی محمد پرویش شاهین، ښاغلی رحمت شاه سائیل، ښاغلی اکمل لیونی، ښاغلی ډاکټر طلا محمد خادم، ښاغلی افضل خاموش، د افغان سوسیال ډیموکرات ګوند (افغان ملت) مشر ښاغلی شمس الهدا شمس، ښاغلی ودؤد اشنغری، ښاغلی ملک امان الله خان کاسی، ښاغلی اشفاق احمد، ښاغلی امیر حمزه مروت، ښاغلی سرور خټک، ښاغلی پروفیسر فریدالله سراهی، ښاغلی اعجاز خټک، ښاغلی شکرالله خوګیانی، ښاغلی نثار مظلوم، ښاغلی ریاض خټک، ښاغلی محمد افغان اباسین، د پښتو عالمی کانګرس ښاغلی شهاب الدین خټک، ښاغلی خیال اکبر اپریدی، د پښتونخوا ځنی ژورنالستانو او نورو سیاسی، ادبی، قومی او ټولنیزو شخصیتونو او پوهانو سره لنډی لیدنی کتنی او د نظریو بدلون وکړ.
د نامتو سیاستدان، ادیب، شاعر او لیکوال ښاغلی اجمل خټک، ښاغلی حاجی غلام احمد بلور، ښاغلی افراسیاب خټک، ښاغلی عبدالطیف اپریدی، ښاغلی ارباب محمد همایون خان



خلیل، ښاغلی ارباب دوست محمد خان خلیل، ښاغلی ارباب شهزاد خلیل، ښاغلی حاجی پیر محمد ګردیوال، ښاغلی محمد ارشد خان، ښاغلی ارباب سکندر خان خلیل، ښاغلی شبنم خان، حاجی نظر محمد کارګر، ښاغلی مهتاب عالم، ښاغلی غلام محمود، ښاغلی استاد رحیم غمزده، ښاغلی وصال محمد، ښاغلی استاد ګلزار عالم، د پښتو د موسیقی


په عکس کی د ښی نه چپ ته: وکیل عبدالجلیل ملنګ، نصیر ستوری، ډاکټر کبیر ستوری
پروفیسر اباسین یوسفزی، لایق زاده لایق، ډاکټر راجولی شاه خټک او ډاکټر شاه جهان لیدل کیږی

بابا استاد خیال محمد، د پښتونخوا د پوهنی د دیری مشر ښاغلی لایق زاده لایق، د اسلامیه کالج استاد او نومیالی ویاند پروفیسر اباسین یوسفزی، د پښتو اکاډمی مشر ښاغلی ډاکټر راجولی شاه خټک، د پیښور پوهنتون د ژورنالیزم ډیپارټمنټ مشر ښاغلی ډاکټر شاه جهان سید، د پیښور د راډیو ښاغلی لیاقت سیماب او ښاغلی ضیاء صیب، او همداشان له نورو پوهانو، سیاسی، کلتوری، ادبی او قومی مشرانو سره بیلی بیلی لیدنی کتنی او د نظریو بدلون وکړ.

## کلتوری ماښامی او اعزازی غونډی:

د پاکستان پیښور د ادبیاتو د اکاډمی مشر ښاغلی سید ولی خیال مومند د ډاکټر کبیر ستوری په درناوی کی د پاکستان د ادبیاتو د اکاډمی په تالار کی پرتمینه غونډه جوړه کړی وه چی ګڼ شمیر ادیبان، لیکوالانو، او شاعرانو پکی برخه اخستبی وه. پدی غونډه کی د پښتون د سوسیال ډیموکرات ګوند د مشر مرستیال ښاغلی محمد شیرین ګردیوال، د پښتونخوا نامتو لیکوال ښاغلی ډاکټر فضل الدین خټک، د پیښور راډیو ښاغلی لیاقت سیماب او ښاغلی لایق زاده لایق، د پی ټی وی ښاغلی عزیز اعجاز، پښتو عالمی کانګرس دارګنائزنګ کمیټی غړي شامل ؤ. په غونډه کی د پښتو ژبی او آدب ته په ور پیښو مسئلو او د پرمختیا په



نوی کوششونو بحث او د نظریو بدلون وشو.
د پښتونخوا د پوهنی د دیری له اړخه د ډاکټر کبیر ستوری په اعزاز کی د ځوانو سندرغاړو هریو ښاغلی رحیم ګل بنګش، ښاغلی سید اګل مینا، ښاغلی ګوهر او اشرف ګلزار په




په عکس کی د پاکستان د ادبیاتو د اکاډمي د غونډی ځنډی لیدل کیږی

خوږو او په زړه پوری اوازونو کی دوه کلتوری ماښامی برابر شوی وو. د پښتونخوا صوبائی اسمبلی غړی محمد ارشد خان لخوا د سر دریاب د سیند په غاړه هم یوه غټه میلمستیا جوړه شوی وه چی یو شمیر پوهان او مشران پکی راټول شوی وو.

**کونړ:** د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند مشر ډاکټر کبیر ستوری د ۲۰۰۳ ع کال د اکتوبر د میاشتی په ۲۱ مه نیټه د خیبر دري له لاری، د تورخم په

www.pashtoonkhwa.com

pashtoonkhwa@gmail.com

psdp@gmx.net


# پښتونخوا


## V.S.I.P / Responsible for contents

DR. KABIR STORI

RICHARDSTR. 5

50389 Wesseling - Germany

Tel.: 0049 2236 83463



## Editorial Board /Redaktion د خپرونې جرګه:

| | |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علي خان محسود (مسید) |
| Hidayat Bangash | هدایت الله خان بنګش |
| Mabariz Zapi | خان محمد مبارز ځاپی |
| Aziz Sarshar | عزیز سرشار |
| Nasir Stori | نصیر ستوری اپسپزی |
| Gul Ghutai Kunarai | ګل غوټۍ کونړی |